ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۲/۰۹/۲۸

هغه صحابي چې د منافقینو لېست ورسره و!؟

د الله جل جلاله د خوږ پېغمبر صلی الله علیه وسلم ټول ملګري (صحابه کرام) د خپلو ځانګړنو له امله د تاریخ زرین مثالونه وو، که ابوبکر صدیق رضي الله عنه د رسول الله صلی الله تر ټولو نیږدې ملګری او خسر و، نو عمر رضي الله عنه ته بیا د انصاف له امله د فاروق لقب ورکړل شوی و، عثمان رضي الله عنه چې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د دوو پرله پسې لونو خاوند پاتې شوی و؛ نو ذوالنورین بلل کېده. علي رضي الله عنه ته د زمري لقب ورکړل شوی و او په همدې ترتیب هر صحابي د خپلې ځانګړنې له امله بېل، بېل لقب درلود؛ خو دلته به نن هغه صحابي در وښایو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم راز دار ورته ویل شوی.
حضرت حذیفه بن یمان رضي الله عنه کې درې داسې خصوصیات وو، چې هغه یې له نورو ممتاز کړی و.
لومړی: هغه ډېر ذهین و او تر ټولو سختې مسئلې به یې تر ټولو ژر حل کولې.
دوهم: ژر پوهېده او د هرې موضوع تل ته به ژر رسېده.
دریم: راز یې ساته، ان تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د منافقانو لسېت ورکړی وو.
په ټولو صحابه کرامو کې یوازینی کس حذیفه رضي الله عنه و، چې پېغمبر صلی الله علیه وسلم ورته د منافقانو نومونه ښودلي وو او په هغه یې ټینګار کړی و، چې دا راز باید وساتي، د منافقانو حرکات وڅاري او نظر پرې ولري؛ څو هغوی مسلمانانو ته کوم زیان و نه رسوي.
حذیفه رضي الله عنه د ژوند تر وروستیو دغه راز ساتلی و او په کومه جنازه کې به چې نوموړي ګډون و نکړ؛ نو د مسلمانانو دوهم خلیفه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به هم نه ورتلو. عمر رضی الله عنه به تل له هغه نه په دې اړه پوښتل.
که څه هم عمر رضي الله عنه ته د فاروق لقب ورکړل شوی و او رسول الله صلی الله علیه وسلم به ویل، چې که په ما د نبوت سلسله تمامه نه وای؛ نو راتلونکی نبي به عمر رضي الله عنه وای. خو د عمر رضي الله عنه دا حال و چې له مړینې وړاندې یې حذیفه رضي الله عنه را وغوښت او له هغه یې وپوښتل چې زما نوم خو به رسول الله صلی الله علیه وسلم په منافقانو کې درته نه وي ویلی؟!
حذیفه رضي الله عنه ورته ډېر وویل، چې دا راز دی؛ خو اخیر له ډېر ټینګار وروسته مجبور شو، چې هغه ته یوازې دومره ووایي: اې د مسلمانانو خلیفه! ستا نوم پکې نشته.
له دې وروسته عمر رضي الله عنه د سکون ساه واخیسته.

ژباړه: سمسور ودان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ